**پر روهینګیا د میانمار پوځ د یرغلونو نوې څپې: بریدونه، سوځول او وژنې**



**خبر:**

د میانمار د ولسمشرۍ دفتر (انګ سان سوچي) په وینا پوځ او سرحدي پولیسو د مقابل لوري پر وړاندې یواځې ځوابي بریدونه وکړل، چې د چاپېزو عملیاتو په پایله کې ۱۲ تنه امنیتي کارکونکې او ۷۷ تنه روهینګیایان ووژل شول. خو عیني شاهدانو د ټولنیزو رسنیو له لارې دا تایید کړه چې زیاتو پوځیانو په کلیو او بانډو چاپې واچولې، چې عام خلک یې ووژل او کورونه یې وسوځول. د بشري حقونو ډلو پوځ د وژنو، جنسي تېریو او له ۱۰۰۰ څخه زیاتو کورونو او نورو ودانیو سوځولو په شمول په سترو انساني جنایتونو او ناوړه چلند تورن کړ. (انډین اکسپریس، ۲۰۱۷ د اګېسټ ۲۶ مه)

**تبصره:**

د روهینګیا زرګونه مسلمانان اوسمهال له سرپنا، خوندیتوب، خوړو او اوبو پرته د میانمار د بې رحمه پوځ تر تیریو او بریدونو لاندې دي. د یو راپور پر بنسټ یو میلیون روهینګیایانو کوښښ وکړ چې نژدې هېواد بنګله دېش ته پنا یوسي، خو په دې پلمه چې دوی غیرقانوني مهاجر دي، په بې رحمۍ د نامناسبې ملتپالې تګلارې او د بنګله دېش د لومړۍ وزیرې د بې بنیاده څرګندونو په نظر کې نیولو سره واپس او په نهیلۍ په همغه پخوانۍ وېره او ډار کې بند پاتې شول. ناچاره دي چې بېرته خپلو سوځول شوو او غمځپلو کلیو بانډو ته ستانه شي، چې بیا هم د سختو او نامناسبو شکنجو سره مخ کېدونکي دي. ښځې او بوډاګان به یا ځان په خطر کې غورځوي او یا به په لرې واټن کې غرونو ته پنا وړي، چې بې له کومو وسایلو او سرپنا هلته ژوند تېر کړي. دا ټولې هغه ناخوالې دي چې له ډېره غمه زړونه سوري کوي او سترګې سوځوي. که څه هم چې د بشري حقونو ډېرى فعالین د ځینو پټو شوو تصویرونو او ویډیوګانو د ښکاره کولو کوښښ کوي، خو د میانمار حکومت په ډېره سپین سترګۍ دا خبرونه ردوي

او د ټولو شته ناورینونو مسؤولیت د مقابل لوري پر غاړه وراچوي او روانو حالاتو ته دومره عادي ګوري لکه هیڅ ستونزه یې چې نه وي رامنځته کړې. د نړیوالو ادارو څرګندونو ته هم د دغه حکومت له خوانه په ډېره سپکه سترګه کتل کیږي، خو دتعجب خبره دا ده چې د همدې حکومت موجوده رهبرۍ ته د نوبل جایزه ورکړل شوې ده.
ډېره د شرم خبره ده چې د یو دولت داخلي پالیسي په دې استواره وي چې په ډلیزه توګه دې د هېواد خاص یو نسل یا قوم د وژلو او له منځه وړلو اجازه ولري او د خپل هېواد د وګړو په توګه یې نه پیژني؛ په داسې حال کې چې په تاریخي لحاظ له لسیزو راهیسې، چې اوسنی میانمار لا رامنځته شوی هم نه و، دوی د همدې خاورې هستوګن وو. د ملګرو ملتونو اوسني سکرتر جنرال انتونیو ګټېرز د میانمار په امنیتي ځواکونو د جمعې د ورځې برید وغانده. سکرتر جنرال په راخین ایالت کې حالات له نژدې څخه څاري او په سیمه کې د زیاتیدونکو بحراني حالاتو څخه په تشویش کې دی. هغه په تکراري توګه د دغه شورش اصلي لاملونو ته ګوتڅنډنه کوي، چې هغه عبارت دي له: هویت او تابعت ورکولو، او د دواړو خواوو ترمنځ د منځګړیتوب موضوع. هغه په کلکه سره راخین شموله ډلې دې ته هڅوي چې د سولې لاره خپله کړي. (د ملګرو ملتونو د دفتر رسمي بیانیه)
نژدې ګاونډ اسلامي هېوادونه تر اوسه د نوموړو ډارونکو پېښو په اړه په داسې توګه کاڼه، ګونګیان او ړانده دي چې ځان ناخبره ښيي، په داسې حال کې چه تصویرونو او ویډیوګانو د ټولنیزو رسنیو فضا نیولې، خو بیا هم ډېرو رسنیو دې حالاتو ته په کمه کچه انعکاس ورکړی. که دا نسلوژنه په زیاته کچه د رسنیزو پردو پر مخ نه ښکارېدای، نو بیا به هم فرض کړای شوې وه چې حالات سم دي؛ خو په داسې حال کې څنګه بیا هم دوی ناخبره دي. دا ټول هغه څه دي چې د روهینګیا حالات نور هم انسان غمجن کوي، په پراخه کچه سوځونې، جنسي تېري، پر ځوانانو سربېره د بوډاګانو او ماشومانو شکنجې هغه څه دي چې اوس هم په رسنیو کې په سمه توګه ځای نه دی ورکول شوی.

تر ټولو بده لا دا چې شیخ حسینه پر دغو ټولو ناخوالو سربېره داسې څرګندونې کوي چې د بنګله‌دېش په اسلامي خاوره کې دوی ته ځای نشته، داسې انګیري لکه چې د دې شخصي ملکیت وي او د امت پنا غوښتونکي حق نه پکې لري. حتی ځینې هېوادونه لکه اندونیزیا، مالیزیا او پاکستان خو بلکل د دغه ناوړه حالاتو په اړه غلې دي. دا پداسې حال کې ده چې روهنګیایان د لسیزو څخه راپدیخوا همداسې په شکنجو او ربړونو کې ډوب دي. د دې وخت دی چې باید د رویبضه (احمقو) حکامو ریښې په بنسټیز ډول له بېخه وایستل شي او پر ځای یې یوه ریښتینې رهبري، چې اساس یې پر تقوا او الله سبحانه وتعالی او امت ته په حساب ورکونې ولاړ وي، تاسیس شي، چې هغه د نبوت پر تګلاره راشده خلافت دی.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر**

منال بدر

۱۴۳۸هـ.ق، د ذولقعده ۸ مه

۲۰۱۷م، د اګیسټ ۳۰ مه